LEARN ABOUT

# Lead in Folk Remedies

## Protect Your Family from Lead Poisoning



For more information, go to
**www.cdph.ca.gov/programs/clppb**
or call your local
Childhood Lead Poisoning Prevention Program (CLPPP)

CDPH

CHILDHOOD LEAD POISONING PREVENTION BRANCH

This brochure was created by Orange County CLPPP



## WHAT ARE FOLK REMEDIES?

Folk remedies are also known as home remedies or traditional, folk, natural or herbal medicine. Folk remedies are used around the world and are very common in different ethnic and cultural groups. Folk remedies can have herbs, minerals, metals, or animal products in them. Lead and other heavy metals may be put into some folk remedies because these metals are thought to help some health problems. Lead and other heavy metals can also get into folk remedies during grinding, coloring, from the package, or if the ingredients are grown in soil that has lead in it.

## CAN LEAD IN FOLK REMEDIES HURT MY CHILD?

Lead can hurt your child or unborn baby. Lead can make it hard for children to learn, pay attention and behave.



## HOW DO I KNOW IF A FOLK REMEDY HAS LEAD IN IT?

You cannot tell by looking at or tasting a folk remedy if it has lead in it. Many folk remedies have a lot of lead in them, so even small amounts of these remedies can hurt your child.

## HOW DO I KNOW IF MY CHILD HAS LEAD POISONING?

Most children with lead poisoning do not look or act sick. The only way to know if your child has lead poisoning is to get a blood test for lead. If you think your child has taken a folk remedy that has lead in it or you don't know, ask your doctor to test your child for lead.



## WHERE CAN I FIND MORE INFORMATION ON FOLK REMEDIES CONTAINING LEAD?

**State of California Department of Public Health**
**Childhood Lead Poisoning Prevention Branch**
http://www.cdph.ca.gov/programs/CLPPB

**Centers for Disease Control & Prevention**
http://www.cdc.gov/nceh/lead/tips/folkmedicine.htm

## WHAT ARE COMMON FOLK REMEDIES THAT CONTAIN LEAD?



- **Greta** and **Azarcon** *(also known as Alarcon, Coral, Luiga, Maria Luisa, or Rueda)* are fine powders used in Latino cultures for upset stomach and other illnesses. The powders are often yellow, orange and/or red and have been found to contain up to 90% lead.
- **Kohl** and **Surma** are black powders used in South Asian and Middle Eastern cultures mainly as a cosmetic, but also on the navel of a newborn child and as a medicine to treat skin infections.
- **Sindoor** is an orange-red powder typically used by the Asian Indian community.
- **Pay-loo-ah** is a red powder used in Southeast Asian countries to treat children with rash or high fever.



## THESE FOLK REMEDIES HAVE BEEN FOUND TO CONTAIN LEAD

| | REMEDIES | USES |
|---|---|---|
| LATIN AMERICA | Albayalde or Albayaidle | "empacho" (vomiting, colic, apathy, and lethargy) |
| | Azarcon, Alarcon, Coral, Greta, Luiga, Maria Luisa or Rueda | Stomach ache |
| | Liga | Digestive and stomach problems |
| | Litargirio | Antiperspirant and deodorant |
| MIDDLE EAST | Alkohl | Applied to umbilical stump |
| | Anzroot | Vomiting and diarrhea |
| | Bint al Zahab, Bint, or Bent Dahab | Diarrhea, colic, constipation, and general newborn use |
| | Bokhoor | Calming fumes |
| | Cebagin | Teething powder |
| | Kajal, Kwalli, Kohl, Al-Kahl, Saoott, Surma, Tiro, or Tozali | Cosmetic; astringent for eye injury and umbilical stump, teething powder |
| | Lozeena | Food coloring |
| | Farouk | Teething powder |
| | Santrinj | Teething Powder |
| INDIA | Bala goli/Fita | Dissolved in "gripe water" and used for stomach ache |
| | Deshi Dewa | Fertility |
| | Ghasard | Digestion |
| | Kandu | Stomach ache |
| | Kushta | Disease of the heart, brain, liver, & stomach |
| | Pushpadhanwa | Fertility |
| | Sindoor | Applied to forehead and hairline |
| ASIA | Asian Tongue Powder | Absorbs toxics |
| | Chuifong toukuwan | Joint and other pain |
| | Daw Tway | Digestion |
| | Ba Bow Sen | Hyperactivity and nightmares in children |
| | Cordyceps | High blood pressure, diabetes, bleeding |
| | Hai Ge Fen | Digestive and stomach problems |
| | Jin Bu Huan | Tonic; insomnia, joint and muscle pain, digestive and stomach problems |
| | Po Ying Tan | Minor illness in children |
| | Paylooah | Rash and high fever |

CLPPB-2039
EN/Pashto 10/17

# په محلي داروګانو کې د سرپ د شتون په اړه وپوهیږئ

## خپله کورنۍ د سرپ له مسمومیت څخه وژغورئ



د لازیاتو معلوماتو لپاره، لاندې انټرنیټي پاڼې ته ورشئ
**www.cdph.ca.gov/programs/clppb**
او یا د سرپ په واسطه د ماشومانو د مسمومیدلو د مخنیوي پروګرام (CLPPP) ته ټیلفون وکړئ

CHILDHOOD LEAD POISONING PREVENTION BRANCH

CDPH

دا معلوماتي رساله په اورینج کاونټي کې د CLPPP له خوا چمتو شوې ده



### محلي دارو ګان څه شی دي؟

محلي یا دودیز داروګان چې د کورنیو دارو ګانو په نوم هم یادیږي، طبیعي او ګیاهي داروګانو ته ویل کیږي. محلي او دودیز دارو ګان په ټوله نړۍ کې او بیلابیلو قومي او نژادي ډلو په منځ کې کارول کیږي. پخوا به په محلي او دودیزو داروګانو کې له بوټو، معدني موادو، فلزاتو او حیواني محصولاتو څخه استفاده کیده. سرپ او نور درانه فلزات به په دارو ګانو کې ګډیدل ځکه چې د پخوا زمانو خلک په دې باور وو چې دا فلزات کولی شي د هغوی روغتیایي ستونزې له منځه یوسي. سرپ او نور فلزات د بیلابیلو شیانو له ټکولو، سولولو او رنګولو او همدارنګه په مځکه کې له کرل شویو توکو څخه رامنځته کیږي چې بیا محلي او دودیزو داروګانو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي.

### ایا په محلي او دودیزو داروګانو کې سرپ زما د ماشوم روغتیا ته د ګواښ لامل کیدی شي؟



سرپ کولی شي ستاسو د ماشوم یا نوزاد روغتیا ته ګواښ پیښ کړي. سرپ کولی شي ستاسو د ماشوم په روزنه، فکر، تمرکز او چلند ناوړه اغیزه وکړي او د هغوی ذهني وده مختله کړي.

### څرنګه وپوهیږو چې محلي یا دودیز داروګان سرپ لري؟

تاسو نشئ کولی د لیدو یا څکلو په واسطه په داروګانو کې د سرپ شتون څرګند کړئ. ډیر شمیر قدیمی او دودیز داروګان ډیره اندازه سرپ لري، نوځکه ددې داروګانو لږه اندازه هم کولی شي ستاسو د ماشوم روغتیا له خطر سره مخ کړي.

### څرنګه وپوهیږو چې سرپ زما د ماشوم د مسمومیت لامل شوی دی؟

ډیر شمیر ماشومان چې د سرپ په واسطه مسمومیږي ناروغ نه ښکاري او د هغوی حرکات هم عادي او سالم وي. تاسو کولی شئ د ماشوم د وینې د معاینه کولو له لارې د هغوی مسمومیت تشخیص کړئ. که چیرې تاسې فکر کوئ چې ستاسو ماشوم سرپ لرونکو کورنیو یا دودیزو داروګانو څخه استفاده کړې ده، او که چیرې پر خپل ماشوم د سرپ موجوده اغیزو په اړه ډاډه نه یاست، له خپل ډاکټر څخه وغواړئ ترڅو ستاسو د ماشوم معاینات بشپړ کړي.



### د سرپ لرونکو محلي او دودیزو داروګانو په اړه لازیات معلومات له کومه ځایه ترلاسه کولی شو؟

**ریاست روغتیا عامه ایالت د کالیفورنیا**
**د سرپ په واسطه د ماشومانو د مسمومیت د مخنیوي پروګرام د دفتر نماینده ګی**
http://www.cdph.ca.gov/programs/CLPPB

**د ناروغیو د مخنیوي او معالجې مرکزونه**
http://www.cdc.gov/nceh/lead/tips/folkmedicine.htm



### کوم محلي یا دودیز داروګان سرپ لري؟

- **ګرتا (Greta)** او آزارکن **(Azarcon)** (چې د آلارکن *Alarcon*، کورال *Coral*، لوئیګا *Luiga*، ماریا لوئیزا *Maria Luisa* یا روئدا *Rueda* په نوم هم یادیږي) دا پوډر ډوله داروګان دي چې د لاتین هیوادونو په فرهنګ کې د نس یا معدې او نورو ناروغیو د درملنې لپاره کارول کیږي. دا پوډر اکثرا سور یا زیړ رنګ لري او پکې 90 سلنه د سرپ موجودیت تشخیص شوی دی.
- **کوهل (Kohl)** او **سورما (Surma)**

  تور رنګي پوډرونه دي چې په جنوبي آسیا او منځني ختیځ هیوادونو کې د سینګار او تزیین لپاره کارول کیږي او نوزاد ماشوم د نامه پر غوټۍ اینودل کیږي او د جلدي ناروغیو د درملنې په موخه هم ورڅخه کار اخیستل کیږي.
- **سندور (Sindoor)**
  یو ډول نارنجي رنګه پوډر دي چې عمدتاً آسیایی هندی ټولنو کې کارول کیږي.
- **پای‌لوآ (Pay-loo-ah)**

  سور رنګ لرونکي پوډر دي چې په جنوب ختیځې آسیایي هیوادونو کې د ماشوم د تبې او ګرمکو د له منځه وړلو لپاره کارول کیږي.



### دا لاندې دودیز او محلي داروګان سرپ لري:

| | داروګان | د کارولو مقصد |
|---|---|---|
| لاتین امریکا | آلبایالد (Albayalde یا Albayaidle) | د زړه بدی، د معدې ګاز او بخار او بیحالي درملنې لپاره |
| لاتین امریکا | آزارکن (Azarcon)، آلارکن (Alarcon)، کورال (Coral)، ګرتا (Greta)، لوئیګا (Luiga)، ماریا لوئیزا (Maria Luisa) یا روئدا (Rueda) | د نس یا معدې درد درملنې لپاره |
| لاتین امریکا | لیګا (Liga) | د هاضمې او معدې درد درملنې لپاره |
| لاتین امریکا | لیتارګیریو (Litargirio) | د خولې د له منځه وړلو او خوش بویي لپاره |
| منځنی ختیځ | الکحل (Alkohl) | د نامه غوټۍ د ناروغۍ درملنې لپاره |
| منځنی ختیځ | آنزروت (Anzroot) | زړه بدی او اسهال لپاره |
| منځنی ختیځ | بنت‌الذهب (Bint al Zahab)، بنت (Bint) یا بنت‌ذهب (Bent Dahab) | اسهال، بخار او معدې غاز، قبضیت او د نوزاد ماشوم د عمومي روغتیا لپاره |
| منځنی ختیځ | بخور (Bokhoor) | د معدې د غاز او بخار د مخنیوي لپاره |
| منځنی ختیځ | سباجین (Cebagin) | د غاښ ایستونکو ماشومانو لپاره پوډر |
| منځنی ختیځ | کاجال (Kajal)، کوآلی (Kwalli)، کوهل (Kohl)، الکحل (Al-Kahl)، سائوت (Saoott)، سورما (Surma)، تیرو (Tiro) یا توزالی (Tozali) | سینګار، د سترګو زخم او د نامه غوټۍ او بطن د ناروغیو درملنې لپاره |
| منځنی ختیځ | لوزینا (Lozeena) | د خوراکي توکو د رنګولو لپاره |
| منځنی ختیځ | فاروک (Farouk) | د غاښ ایستونکو ماشومانو لپاره پوډر |
| منځنی ختیځ | سنترینج (Santrinj) | د غاښ ایستونکو ماشومانو لپاره پوډر |
| هندوستان | بالاګلی (Bala goli)/فیتا (Fita) | په "ګریپ واټر" کې حل کیږي او د معدې د ناروغۍ لپاره کارول کیږي |
| هندوستان | دشی‌دوا (Deshi Dewa) | ښیرازوالی |
| هندوستان | ګسارد (Ghasard) | هاضمه |
| هندوستان | کندو (Kandu) | د معدې درد |
| هندوستان | کوشتا (Kushta) | د زړه، ماغزو، جګر او معدې د ناروغیو د درملنې لپاره |
| هندوستان | پوشپادانوا (Pushpadhanwa) | ښیرازوالی |
| هندوستان | سندور (Sindoor) | پر تندي او د ویښتانو منځ لیکه باندې کارول کیږي |
| آسیا | د ژبې د سر پوډر | د زهرياتو جذبوونکی |
| آسیا | چوئیفونګ توکوان (Chuifong toukuwan) | د مفصل درد یا نورو دردونو د درملنې لپاره |
| آسیا | داو توای (Daw Tway) | هاضمه |
| آسیا | با بو سن (Ba Bow Sen) | د ماشومانو په منځ کې له حده زیات فعالیت او د خوب نشتوالي لپاره |
| آسیا | کوردی سیپ (Cordyceps) | د وینې لوړ فشار، شکر ناروغۍ او د وینې د بهیدو د درملنې لپاره |
| آسیا | هایګفن (Hai Ge Fen) | د معدې او هاضمې د درملنې لپاره |
| آسیا | جین‌بو هوآن (JinBu Huan) | تقویه کوونکی، د خوب نشتوالي درمل، د عضلاتو او مفاصلو درد، د هضم او معدې تکلیفونو د درملنې لپاره |
| آسیا | پو یینګ تان (Po Ying Tan) | د ماشومانو په منځ کې د کوچنیو روغتیایي ستونزو لپاره |
| آسیا | پای‌لوآ (Paylooah) | د ګرمکو او تبې د درملنې لپاره |

CLPPB-2039